# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



ترجمه و تبصره از: شریف بهاند


۱۹ می ۲۰۱۱

## اروپايي ټولنه، متحده ايالتونه او ناتو:

## سيال که همکار؟

د ژباړونکی خبرې:

د تيرې پيری د وروستی لسيزې په پيل کې د پانګوال نظام سيال هغه، سوسياليزم ډړې وړې او ورسره جوخت نه يوازې د وارسا پوځي تړون، بلکې شوروی اتحاد هم منحل شو. خو نړيوال نظم نه يوازې له ګواښ سره مخامخ نه، بلکې لويديځې نړۍ، په ځانګړې توګه متحده ايالتونو د خپلې ترلاسه شوې پوځي، سياسي ـ اقتصادي برترۍ له امله پر هغه واکمن او د يووزرې نړيوال ځواک په توګه په دې لټه کې شو، چې له خپلو ستراتيژيکو موخو سره سم په هغه کې نويوالی رامنځته کړي. د متحدو ايالتونو د پخواني ولسمشر جورج بوش (پلار) د "نوي نړيوال نظم" په باب د عراق د لومړۍ جګړې له پيل سره، خپل ولس ته په خطاب کې وويل: " له دغو نا ارامه وختونو ځخه کيدای شي، يو نوی نړيوال نظم رامنځته شي، چې په هغه کې به ملګري ملتونه هغه رول ولوبوي، چې د دغه سازمان د بنسټ ايښودونکو له خوا طرح شوی و. موږ د فوق العاده او ځانګړو شيبو شاهدان يو. د خليج د سيمي کړکيچ، چې کيدای شي له ګواښه ډک هم وي، موږ ته داسي موقع په لاس راکړې، چې د ګډې همکارۍ يو تاريخي پړاو مخ په وړاندې يوسو. د نوي نړيوال نظم په رامنځته کيدو باندې سختې شيبې تيرېږي. ښايي داسي يوه نړۍ رامنځته شي، چې هغه به له اوسنی هغې ځخه چې موږ يې پيژنو، توپير ولري" (۱). په رښتيا هم لويديځ، نړيوال مهم سياسي او امنيتي سازمانونه د بيلګې په توګه، د ملګرو ملتونو د امنيت شورا، نړيوال بانک او نړيوال وجهی صندوق، تر خپل اغيز لاندې لري او په واقعيت کې دوی د نړۍ د اداره کولو لپاره، په هغه ډول چې د لويديځ ګټې سمبال، برترې يې خوندي، سياسي او اقتصادي ارزښتونه يې د نړۍ ګوټ ګوټ ته پراخ او وسائل شي، له دغو نړيوالو سازمانونو او همدارنګه د ناتو له پوځي ځواک ځخه ګټه ترلاسه کوي. له همدی امله د ناتو د پوځي سازمان غړو هيوادونو د تېرې پيری په وروستی لسيزه کې د سازمان د پوځي وړتيا ارزونه ترلاس لاندې ونيوله، چې هغه ځان د نړۍ له نوو رامنځته شوو شرايطو او ګواښونو سره عيار کړی شي. په دې موخه سازمان

په خپله غونډه کې، چې په ۱۹۹۱ کال د روم په ښار کې تر سره شوه، د بیلابیلو خواوو څخه د نوو امنیتي ګواښونو په وړاندې د مبارزې په موخه په خپله "نوې ستراتیژۍ" کې د "چټک یرغلیز ځواک" رامنځته کول تصویب کړل.

خو د ناتو په دکترین Doktrin کې ستر بدلون په کال ۱۹۹۹ د واشنګټن په غونډه کې رامنځته شو. ځکه د ناتو د غړو هیوادونو د مشرانو په اند، نړیوال امنیت اوس له نوو ګواښونو، د بیلګې په توګه د اتومي وسلو له پراختیا او نړیوالي ترهګرۍ، سره مخامخ دی او د هغو هوارول او یا له منځه وړل یې د لومړي ځل لپاره د خپلو پوځیانو دنده وبلله. همدې موضوع ته د ناتو په دکترین هم په روښانه توګه نغوته شوې، چې د نورو تر څنګ د هغه مهم ټکي په لاندې ډول دي:

"۱ - د شمالی اتلانتیک او اروپا له سیمو څخه ټولې نړۍ ته د ناتو د عملیاتو پراختیا؛

۲ - د ملګرو ملتونو له باور لیک (اجازې) پرته د عملیاتو تر سره کول او د ناتو د ترون د رول پراختیا؛

۳ - له اړتیا سره سم او له مخکیني اعلام څخه پرته د اټومي وسلو کارول" (۲). نو ځکه د ناتو د تړون یرغلیز عملیات دي د نړۍ هرې برخې ته پراخ کړی شي. د دغو یرغلیزو عملیاتو بنسټیزې موخې:

ــ د ترلاسه شوې برلاسی (هژموني) ساتنه؛

ــ د طبیعي اومه توکو پر پاتو زیرمو په تیره بیا د فسیلي انرژۍ پر هغو بشپړه واکمني؛

ــ د نړیوال او سیمه ییز سیال ځواک یا ځواکونو له رامنځته کېدو څخه مخنیوي، دی.

خو د درېیمې زریزې د لومړۍ لسیزې تجربو دا روښانه کړې، چې د شمالي اتلانتیک د سمندر د دواړو غاړو سترو اقتصادي ــ سیاسي او پوځي ځواکونو، د امریکا متحدو ایالتونو او اروپایي ټولنې په خپلو پوځي ــ سیاسي هاند و هڅو سره، نه یوازې خپلې پورتنې موخې ترلاسه نشوې کړې، بلکې دواړو په تیره متحدو ایالتونو د یووزري نړیوال ځواک په توګه خپل نړیوال دریځ هم له لاسه ورکړی. د روبرت کپل Robert Kappel په اند: "نړۍ د ځواک له یوې ګواښمني تشې سره، چې کیدای شي څو لسیزې دوام وکړي، مخامخ ده. د ځواک دغه تشه ځکه رامنځته شوې، چې اروپا او متحد ایالتونه اوسمهال څه نا څه د زوال په پړاو کې دي، پداسې حال کې چې چین، هند او برازیل د نړیوال ځواک ادعا کوي، خو دوی لا د دغه رول د لوبولو نه دي" (۳). دا په دې مانا چې د نوي نړیوال نظم د رامنځته کولو پر سر، د نوو رامنځته شوو ټلوالو لکه IBSA (هند، برازیل، سویلی افریقا)، بریکس BRICS (برازیل، روسیه، هند، چین او سویلی افریقا) او د برېکسزام BRICSAM (د بریکس ټلواله جمع مکسیکو) او د لویدیزې نړۍ د ټلوالې، اروپایي ټولنې او متحدو ایالتونو، ترمنځ سخته سیالي روانه ده.

ایا د نړۍ په ځینو هیوادونو کې اوسنۍ جګړې د همدې سیالۍ زیږنده دي؟ ایا د شمالي اتلانتیک د سمندر د دواړو غاړو د ټلوالې ترمنځ د دغو جګړو په اړه د نظر یووالی شته او که نه؟ او ایا دوی د نوي نړیوال نظم په رامنځته کیدو کې همکار دي او که سیال؟ دې پوښتنو ته المانی سیاست پوه او د نړیوالو اړیکو څیړونکی، توبیاس فلیوګر Tobias Pflüger په خپلې یوه لیکنه کې ځواب ویلی. د همدې ارزښت له امله ما اړینه وبلله، د هغه یوه مهمه برخه، اروپایي ټولنه، متحده ایالتونه او ناتو: سیال که همکار؟ پښتو ته وژباړم. هیله ده، پورتنیو پوښتنو ته ځواب وویلی شي.

اخځایونه:

۱ ـ ویلیم اف،اِنګدال: د نفتو پر مرسته په نړیوال څواک اوښتل، نوي نړیوال نظم ته لاره، صدام حسین او نوی نړیوال نظم، ژباړونکی: شریف بهاند، وګورئ په:

http://www.afghan-german.de/upload/Tahlilha_PDF/bahand_de_nafto_pa_meresta.pdf

۲ ـ شریف بهاند: درېیمه زرېزه: د امریکا متحده ایالتونه، ناتو او نړیوال نظم، وګورئ په:

http://www.afghan-german.de/upload/Tahlilha_PDF/bahand_usa_nato_au_naleiwal_nazem.pdf

۳- Kappel Robert: Der Abstieg Europas und der Vereinigten Staaten – Verschiebungen in der Weltwirtschaft und Weltpolitik, sehen in:

http://www.giga-hamburg.de/dl/download.php?d=/content/publikationen/pdf/gf_global_۱۱۰۱.pdf

# اروپايي ټولنه، متحده ايالتونه او ناتو:

# سيال که همکار؟

ليکوال: توبياس فليوګر Tobias Pflüger

ژباړونکی: شريف بهاند

اخځای:

نړيوالېدل او جګړه، مخ: ۷۴ ـ ۷۹

Tobias Pflüger : Konkurrenz oder Parallelität EU/NATO/USA? Sehen in: Globalisierung und Krieg, Hamburg, ۲۰۰۳, C. Haydt/T. Pflüger/J. Wagner:

د متحدو ايالتونو په ټينګار د ۲۱.۰۰۰ تنو، د ناتو چټک يرغليز ځواک (Nato-Response-Force (NRF د احتمالي ځانګړو ماموريتونو د ترسره کولو په موخه، په ۲۰۰۳ کال کې رامنځته شو. دغه ټولګي د پوځي لاسوهني لپاره په پام کې نيول شوي او هغه د ناتو د سازمان د يوې ځانګړې قومندانی ځانګړتيا لري او يوه برخه يې بايد لږ تر لږه د پنځو ورځو په ترڅ کې د عملياتو د ترسره کولو لپاره چمتو وي. خو د المان د حکومت اندېښنه دا وه، چې د دغه ځواک رامنځته کول بايد د اروپايي ټولنې د پوځي هغه د جوړولو لپاره خنډ رامنځته نه کړي. له همدې امله يې يوازې په يوه شرط له هغه سره هوکړه وکړه، چې د ناتو د چټک يرغليز ځواک په جوړولو سره، بايد د اروپايي په هغو کې کمښت رامنځته نشي. په حقيقت کې د پوځ ځيني ټولګي د دوو نړيوالو ځواکونو لپاره په پام کې نيول شوي وو. که په عين وخت کې ځو ماموريتونه په پام کې وي، بنايي دا پوښتنه رامنځته شي، چې دغه ټولګي به د اروپايي ټولنې د ځواکونو او که ناتو تر قومندې لاندې وي. په دې برخه کې پراخه سيالي روانه ده او ناتو د چټک يرغليز ځواک په جوړولو کې تر اروپايي ټولنې مخکې دی.

د اروپايي ټولنې د پوځي لاسوهنې ځواک، خپلواک پوځي ټولکي نه دي، دغه ځواکونه د غړي هيواد په پوځي شونتياوو پورې او همدارنګه له همدې لارې د ناتو په هغو پورې تړلي ګڼل کېږي. د ناتو د چټک يرغليز ځواک اړيکې د اروپايي ټولنې له هغه سره ډېر په زړه پورې دي. په رسمي توګه د اروپايي ټولنې د ځواکونو او د ناتو هغو ترمنځ هيڅ ډول سيالي نه تر سترګو کېږي. دوی بايد يو د بل بشپړوونکي وي. خو په حقيقت کې د اروپايي ټولنې د مشرانو د ادعاوو له مخې، موخه د پوځي لاسوهنې د ځواک رامنځته کول دي، چې هغه وکولی شي، پرته له ناتو او همدارنګه پرته له متحدو ايالتونو، په خپلواکه توګه عمليات تر سره کړي شي. دغه موخه د المان د فدرالي جمهوريت د حکومت په اينترنت پاڼې کې په لاندې ډول بيان شوې ده: " دغه ځواکونه بايد خپلواک له ناتو، د اروپا د يرغليز ځواک په بڼه د اروپايي ټولنې د ګډو ماموريتونو لپاره ګټې اخيستنې ته چمتو وي". د همدې ټکی په پام کې نيولو سره، کانګو ته د دغو ځواکونو د ليږلو ارزښت روښانه کېږي. اروپايي ټولنې پرته له ناتو د لومړي ځل لپاره هلته عمليات تر سره کړل.

که په راتلونکي کې د پوځي لاسوهنو اړتيا ليدل کېږي او له هغو سره د متحدو ايالتونو حکومت مينه نه لري او يا د دغه هيواد حکومت خپلې ګټې په هغو کې نه ويني، نو بايد د اروپايي ټولنې ځواکونه دغه ماموريت په يوازې توګه تر سره کړي. دا په خپله د اروپايي ټولنې او متحدو ايالتونو ترمنځ د سيالی ښکارندوې کوي.

په ظاهره د اروپايي ټولنې او متحدو ايالتونو ترمنځ په پوځي برخه کې د کار له ويش څخه خبرې کېږي. د کار دغه ويش په بوسنيا، کوزو وو او يا افغانستان کې د عمل په ډګر کې پلی شو. انګريزانو په هغو پوځي عملياتو کې، چې قومنده يې د متحدو ايالتونو په لاس کې وه، برخه واخيسته. خو له جګړې وروسته کړه وړه د اروپايي ټولنې نورو غړو هيوادونو په ځانګړې توګه د المان فدرالي جمهوريت ته وسپارل شول. سربيره پر دې د دوی ترمنځ څه نا څه يو ډول سيمه ييز کار ويش هم شته دی. ښايي په راتلونکي کې اروپايي ټولنه د واحدې اروپا د شا و خوا سيمو د کړکيچونو مسوليت په غاړه واخلي. د ټولنې د دفاعي سياست د کرښلارې په نوې طرحه کې په روښانه توګه د بالقان سيمه د اروپايي ټولنې د ګټو هغه ګڼل شوې ده. د اروپايي ټولنې د ليد له مخې د کار دغه ويش له ګټوسره مل دی. ځکه اروپايي ټولنه دې ته اړ نه ده، جګړه په خپله پرمخ بوزي، بلکې ټولنه هغه وخت پوځيان هلته ليږي، چې جګړه ييز عمليات پايته رسيدلي وي. سره له دې هم د اروپايي ټولنې ډېر حکومتونه د کار له دغه ويش څخه ناراضه دي. ځکه په کړکيچنو او جګړه ييزو سيمو کې د دوی هر يو د خپلو ځانګړو ګټو د پلي کولو په لټه کې دی. الماني شرکتونو احساس درلود، چې په بوسنيا کې له دوی سره تبعيض او ناروا شوې ده. خو د هغه په ځای بيا په کوزو وو کې دوی ډېرې ښېګڼې (ګټې) ترلاسه کړي. حکومتونه په دې هاند و هڅه کې دي، له جګړې په وروسته کړو وړو او د بيا رغونې چارې، لکه د بريښنا سمبالښت، د خپلو هيوادونو د شرکتونو لپاره ترلاسه او په دې توګه له هغو ګټې پورته کړي.

د عراق په برخه کې، د المان د صنايعو د ځانګې د ګټو ساتندويانو (Lobbyisten) لکه د دغه هيواد د صنايعو د خونې د مشرتابه غړي، مشايل روګووفسکي Michael Rogowski ، د المان د مسيحی ديموکرات ګوند غړي، فريدريش مېرڅ Friedrich Merz او ولفګانګ تيرزه Wolfgang Thierse (د المان د ولسي جرګې پخوانی مشر) ټينګار کاوه، چې بايد الماني شرکتونه هم د عراق د بيارغونې په چارو کې برخه واخلي. که دا کار د عمل په ډګر کې پلی شي، نو کيدای شي دوی زياتې ګټې ترلاسه کړي. د اروپايي هيوادونو د حکومتونو د ليد له مخې، د جګړې د ربنتينو موخو په برخه کې د اغيز ترلاسه کول، يوازې هغه وخت شونې بريښي، چې سرې په خپله په

جګړه کې برخه واخلي. نو ځکه مخکې یاد شوی د کار ویش په تیرې زماني پوړۍ اړه مومي. د راتلونکې زماني د کار ویش په پوځي لاسوهنو پوړۍ اړه لري.

همدارنګه د پلان شوو جګړو په برخه کې هم د دوی ترمنځ یو ډول پټه سیالی روانه ده. د عراق په جګړه کې د المان د حکومت د برخې نه اخیستنې لامَل په ټاکنو کې د زیاتو رایو ترلاسه کول نه وو. په ساده توګه ویلي شو، چې المان نورې ګټې درلودې. په دې برخه کې یو ډېر مهم ټکی د ایران هیواد و، چې د متحدو ایالتونو د راتلونکې احتمالی جګړې د موخې په توګه ګڼل کیده. ایران په سیمه کې د المان یو ترټولو مهم اقتصادي همکار دی. که پر ایران یرغل شوی وای، نو شوني بریښیده، د متحدو ایالتونو او د المان د ګټو ترمنځ تضاد په ښکاره توګه روښانه شوی وی. خو دغه سیالي اوسمهال له دیپلوماتیکو لارو چارو تر سره او (لا) تر اوسه د امپریالیزم ترمنځ د پوځي شخړې نښې نښانې نه تر سترګو کېږي.

د امریکا د متحدو ایالتونو په وړاندې د پوځي سیال ځواک په توګه د اروپایي ټولنې د رامنځته کېدو د طرحې ملاتړ، له ډېر خواوو کېږي. خو له سیاسي پلوه د متحدو ایالتونو په وړاندې د یو ځواک رامنځته کېدل ناسم کار دی. ځکه دغه ښکارنده (پدیده) د پانګوالی نظام تر منځ یوازې د سیالی د پیاوړی کولو په مانا ده. پداسي حال کې چې اروپایی ټولنه په ښکاره توګه په همدې لاره ګام پورته کوي: د وخت د سیاسي شرایطو په پام کې نیولو سره، کله په ګډه او کله هم یو د بل په وړاندې. په هغه لاسوند کې چې خاویر سولانا د اروپایی ټولنې د حکومتي مشرانو په سپارښتنه د ۲۰۰۳ کال د جون په میاشت کې، د اروپا په دفاعي کړنلارې کې، چې عنوان یې "په ښې نړۍ کې یوه ډاډمنه اروپا" ده، وړاندې کړ، په وار وار یوې څو قطبي نړۍ ته نغوته شوې، چې دا په خپله د امریکا د متحدو ایالتونو او بریتانیا د ګټو خلاف، خو د فرانسې او المان له هغو سره برابره بریښي. په همدې باب په دې لاسوند کې راغلي: "اروپا د ۲۵ غړو هیوادونو [اروپایي ټولنه اوس ۲۷ غړي لري: ژباړونکی] د یوې ټلوالې په توګه، چې ټولیز پوځي لګښت یې ۱۶۰ ملیارد یورو دی، باید له یو داسي ځواک څخه برخمنه وي، چې که اړتیا ولېدله شي، نو په عین وخت کې څو پوځي عملیات تر سره کړي شي. موږ باید داسي ستراتیژیک فرهنګ رامنځته کړو، چې مخنیونکې، ګړندي او که اړتیا وي، د مرګوني عملیاتو تر سره کول شوني کړي". [...] "دغه روښانه فورمولبندي په نړیواله کچه د پوځي کولو له لارې د اروپایي ټولنې د ځواک غوښتنې ښکارندوي کوي". په همدې لاسوند کې د ټولنې د موخې په اړه داسي ویل شوي دي: " که اروپایي ټولنه او متحده ایالتونه په ګډه عمل تر سره کړي، ښایي یو اغیزمن ځواک رامنځته او هغه به په نړۍ کې د خیر غوښتنې په موخه د شرارت په وړاندې کړه وړه ترسره کړي". دا چې د ټولنې ریښتنې موخه څه ده، هغې ته د سولانا په لاسوند کې هم نغوته شوې ده: "یوه فعاله او کړو وړو ته چمتو اروپایي ټولنه کولی شي، په نړیواله کچه خپل اغیز ته پراختیا ورکړي. ځکه بنسټیزه موضوع د نړیوال ځواک په توګه د هغې رامنځته کول دي".

د سولانا په لاسوند کې څه نا څه په روښانه توګه د مخنیونکې جګړې په باب هم خبرې شوې دي. "د نوو ګواښونو د شتوالي له امله، دفاعي کرښې ډیرې لرې پرتې دي. [...] د اتومي وسلو پراختیا د ملتونو ترمنځ د سولې او امنیت لپاره ترټولو ستر ګواښ ګڼل کېږي. نوي ګواښونه ځواکمن او خوځنده دي. که سړی د ترهګري شبکو په وړاندې کړه وړه تر سره نه کړي، هغوي په پر له پسې توګه ګواښمنې کېږي. موږ باید له دې لا پخوا د القاعده شبکې په وړاندې مبارزه پیل کړې وای. دا ټول د دې ښکارندوي دي، چې موږ د کړکیچ له رامنځته کېدو مخکې باید کړه وړه ترسره کړو".

[د المان د فدرالي جمهوريت] د سوسيال ديموكرات او زرغون گوندونو مشران، د اروپايي ټولني دوه گوني ځواک (سياسي او پوځي) د سولي د نوی ځواک په نامه ياد او په دې توگه دوی د "اروپا" له مثبت اړخ څخه د پوځي هاند و هڅو لپاره گټه ترلاسه کوي. دا په حقيقت کي له کرکي ډکي اروپا پالني څخه پرته بل څه نه دي. ان د ليبرال گوند د چپ اړخ د ځينو کړيو او همدارنگه د کين اړخه گوند، ديموکرات سوسياليزم، يوه برخه په دې نظر دي، چي "خير غوښتونکي اروپا" د "شريرو متحدو ايالتونو" په وړاندې ولاړه ده.

د اروپايي ټولني د پوځي کولو سياست په ۳ برخو کي ډير پرمختک کړی دی:

ــ د پوځي لاسوهني د ټولکيو د رامنځته کولو په برخه کي؛

ــ د دوو يا څو بيلابيلو هيوادونو څخه د اروپا د پوځي ځواک د جوړولو او

ــ د اروپا د پوځي صنايعو د پياوړتيا په برخه کي، چي د متحدو ايالتونو له هغو سره سيالي وکړي. دا په دې مانا نه ده، چي يوېخوا ته "شرير متحده ايالتونه" او بلې خوا ته "خير غوښتونکي اروپايي ټولنه" ده. زړه اروپا نيت نه لري، په سوله ساتي ځواک بدله شي، بلکي په دې لټه کي ده، چي له يوېخوا خپلي اقتصادي گټي او له بلې خوا پوځي هغه ترلاسه کړي. د دواړو [اروپايي ټولني او متحده ايالتونو] بنسټيز جوړښتونه يو شاني دي. دواړه په پام کي لري، په سويلي سيمو [پرمختيايي هيوادونو] کي جگړې په لاره واچوي. د ۲۰۰۳ کال د اپريل په پای کي د څلور هيوادونو، المان، فرانسي، بلژيک او لوکزامبورگ، د مشرانو له غونډې وروسته، چي په بروکسل کي تر سره شوه، د دغو هيوادونو حکومتي مشران د "عراق د جگړې د مخالفينو" په توگه وپيژندل شول، دوی يوازې د دغې جگړې مخالف وو، خو نه له جگړې سره، چي د سياست د وسيلي په توگه کارول کيږي.

د فرانسي د حکومت ترڅنگ د المان هغه، د متحدو ايالتونو په وړاندې د پوځي سيال په توگه د اروپايي ټولني د رامنځته کولو اصلی لوبغاړی گڼل کيږي. د المان حکومت د ځان لپاره د تل په څير، ټولي لارې خلاصي پريږدي او غواړي له اړتيا سره سم د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره له ټولو شونتياوو، اروپايي ټولني، ناتو، د ملگرو ملتونو په اډانه کي عمليات، له نورو موقتي ټولنو څخه په گټې اخيستنه او ان په يوازې توگه عمليات تر سره کړي.